سبحانه و تعالی

د شخصي مدارسو مشترک نصاب

# اسلامیات

لمړی ټولګی

۱

مؤلف :

مولوي محمد عمر خطابي

خپرونکی :

خطابي دارالاشاعة

د تعلیم الاسلام ویب پاڼې له خوا :
www.taleemulislam-radio.com

سبحانه و تعالي

د شخصي مدارسو مشترک نصاب

# اسلاميات

## لومړی ټولګی

مؤلف :

مولوي محمد عمر خطابي

خپرونکې اداره :

خطابي دار الاشاعة

اړیکه : ۰۷۰۳۰۵۰۷۰۰

د لاسته راوړلو ځای :

د ارګ بازار عامي کتاب پلورنځی

کندهار افغانستان

# کتاب پېژندنه

==================

د کتاب نوم : اسلامیات

د لوست ټولګی : لومړی ټولګی

مؤلف : مولوي محمد عمر خطابي

خپرونکې داره : خطابي دار الاشاعة

د تالیف نېټه : ۲۹ ثور ۱۳۷۹ هـ ش مطابق ۱۵ صفرالمظفر ۱۴۲۱ هجري قمري کال

تجدید او تصحیح : دوشنبه ۱۱ رجب ۱۴۳۲ هـ ق مطابق ۲۳ جوزا ۱۳۹۰ لمریز کال

د چاپ وار : مسلسل

د لومړی ټولګی بشپړ نصاب :

اسلامیات ، تعلیم القرآن ، ادبناک هلک ، د لیک مشق ، حساب .

د رانیولو ځای : د ارګ بازار عامه کتاب پلورنځی کندهار .

د معلوماتو شمېره : ۰۷۰۳۰۵۰۷۰۰

بسم الله الرحمن الرحيم

# د استاذ لارښوونه

درنو استاذانو ! استاد یو کتاب په اغیزمن ډول هغه مهال تدریس کولای سي چې د کتاب محتوا ، ترتیب ، موخه او د تدریس د طریقې اړوند اړین معلومات ور ته حاصل وي ، د لومړۍ ټولګۍ د اسلامیاتو محتوا ، ترتیب ، هدف او د تدریس طریقه په لنډ ډول یو په بل پسې په لاندي کرښو کي مطالعه کولای سئ .

# د اسلامیات محتوا

د کتاب محتوا هغه څه دي چي یو کتاب د بل شخه بیلوي ، د کتاب د لیکني او لوستني مقصودي شئ همدا محتوا ده ، د دې کتاب محتوا د کتاب د نامه څخه هم څرګندیږي ، هغه دا چي پدې کتاب کي د عقیدې او احکامو ځیني مسایل ذکر سوي دي البته هغه مسایل چي اوه کلن ماشوم یې و زده کړي ته په لومړي قدم کي اړتیا لري او هم یې فهمولای سي .
د عقیدې او احکامو مسایل دونه زیاتي دي چي زده کړه یې کلونه کلونه وخت غواړي خو زده کړه او ور زده کړه په تدریجي ډول کیږي ، د زده کړي په تدریجي پړاونو کي درې ټکي ډیر د پام وړ دي هغه داچي :
لومړی : تر ټولو دمخه طلباوو ته هغه مسایل او احکام ور ښودل کیږي چي د هغو سره طلباء تر هر څه وړاندي مخ کیږي او اړتیا ور ته لري .
دوهم : د لومړني پړاو د اړتیا وړ مسایل به هغه ډول مسایل وي چي طلباء یې فهمولای سي ، ځکه ډیر دا ډول مسایل هم سته چي د اړتیا سره سره بیا هم طلباوو ته نه بیانیږي ځکه چي هغه دا ډول مسایل وي چي طالبان یې د کم عمر او خام فکر لکبله د فهمولو استعداد نه لري .
دریم : د هري ټولګۍ طالبانو ته به د هغوی د سوې او استعداد مطابق مسایل تشریح کیږي ، کوچنیانو ته به د کوچنیانو په ژبه او ترڅ او لویانو ته د لویانو په ژبه او ترڅ مسایل بیانیږي .
د همدغو درو ټکو په پام کي نیولو د اسلامیات محتوا د عقیدې او لمانځه هغه ماسیل تشکیلوي چي د لومړۍ ټولګۍ طالبان تر هر څه مخته اړتیا ور ته لري او هم یې فهمولای سي .
د لومړۍ ټولګۍ په نصاب کي د طالبانو عمر اوه کلن په نظر کي نیول سوی دی البته تر دې کم سنه ځیني ځیرک ماشومان هم ښایي د دې جوګه وي چي د لومړۍ ټولګۍ نصاب دي ولوستلای سي .
اسلامیات د اوه کلن ماشوم د کلمې او د لمانځه د زده کړي مضمون دی لکه څه ډول چي ادبناک هلک او د لیک مشق یې بیا د لیک او لوست د زده کړي د پاره ترتیب سوي دي .

# د کتاب ترتیب

د کتاب محتوا چې څونه په مناسب ډول ترتیب او وړل سوې وي په هغه اندازه يې لوست روان ، عام فهمه ، زړه وړونکی او مؤثر وي ، په مناسب ډول د کتاب په وړنه او تاليف کې مؤلفين د مضامينو تر منځ ډېر ژور او عميق مناسبتونه په پام کې نيسي .

د هغو مناسبتونو په جمله کې چې د محتوا په وړنه او ترتيب کې بايد حتما په پام کې ونيول سي او بنسټيز او عام حيثيت لري دوه ټکي دا هم دي :

لومړی : څرګنده خبره ده چې کتاب د ور زده کړي او تعليم لپاره تاليفيږي نو په کتاب کې هم د الاهم فالاهم قاعده مراعات کيږي يعني تر ټولو مهم او اړين مسايل اول ښوول کيږي ور پسې بيا هغه مسايل چې تر دې وروسته مهم وي ، په همدغه ترتيب د تعليم کاروان مخته بيول کيږي .

دوهم : ښوونه د طالبانو د علمي استعداد سره سم د اسانه مسايلو څخه پيليږي څونه چې د طالبانو فهم او ادراک قوي کيږي او علمي استعداد يې وده کوي د اسانه مسايلو څخه ورو ورو د ګرانو مسايلو په ښوونه پيل کيږي .

د پورتنيو دوو ټکو په پام کې نيولو سره د لومړۍ ټولګۍ اسلاميات د پنځو بناوو د خپل منځي اهميت پر بنسټ په لاندې ډول ترتيب او وړل سوی دی :

عقايد ، لمونځ ، زکات ، روژه او حج البته د اسلاميات زياته برخه د عقايدو او د لمانځه و زده کړې ته ورکول سوې ده ځکه ماشوم د همدغو دوو بناوو و زده کړې ته تر زکات ، روژې او حج مخته اړتيا لري او په عملي کولو يې والدين امر سوي دي .

د اوه کلن ماشوم په هکله رسول الله صلي الله عليه و سلم حکم کړی دی :

مُرُوا أَوْلاَدَكُمْ بِالصَّلاَةِ وَهُمْ أَبْنَاءُ سَبْعِ سِنِينَ وَاضْرِبُوهُمْ عَلَيْهَا وَهُمْ أَبْنَاءُ عَشْرِ سِنِينَ وَفَرِّقُوا بَيْنَهُمْ فِي الْمَضَاجِعِ (ابوداود)

ژباړه : تاسو خپل اولادونه په اوه کلنۍ کې په لمانځه امر کوئ او په لس کلنۍ کې يې د لمانځه پر نه کولو وهئ او هم يې د خواب بسترې يو د بل څخه بيلوئ .

د همدې نبوي حکم د پر ځای کولو د پاره اسلاميات د سوال او جواب په طريقه ترتيب سوی دی تر څو زموږ نالوستي اوه کلن ماشومان د لمانځه زده کړه ځني وکولای سي .

د اسلاميات په وړنه کې د الاهم فالاهم د قاعدې د مراعات کولو تر څنګ تعليمي تدريجي پړاونه هم په پام کې نيول سوي دي ، په لومړي قدم کې پنځه بناوې په اسانه ډول د سوال او جواب په طريقه ښودل سوي دي البته زياته برخه يې عقايد او د لمانځه و زده کړې ته ورکول سوې ده

خو د لمانځه اذکار چي یادول یې څه ګران دي هغه بیا د زکات ، روژې او د حج د اسانه او لنډ معلومات ورکولو څخه وروسته ذکر سوي دي .
د لمانځه اذکار هم د لمانځه په ترتیب نه دي ذکر سوي بلکي د اسانه څخه پیلیږي ، د لمانځه په ترتیب کي د تحریمې څخه وروسته ثناء ، تعوذ ، تسمیه ، الحمد لله بیا سورت ویل کیږي خو په اسلامیات کي چي لمونځ نه دی بلکي د لمانځه زده کړه ده موږ د تسمیې څخه وروسته د رکوع تسبیح ، تسمیع ، تحمید او د سجدې تسبیحات بیان کړي دي څو د اسانه ذکرونو په یادولو د طالبانو د حافظې ثبت ورو ورو قوت ومومي او بیا د الحمد لله په شان اوږده سورتونه هم په اسانتیا حفظ او یاد کړای سي .
د لمانځه د اذکارو په وروستۍ برخه کي د قرآن کریم پر ترتیب څوارلس سورتونه ذکر سوي دي چي دا هم باید طلباء یاد کړي او ور پسې د دعاګونو ضمیمه لري .
د ضمیمې مقصد دا دی چي که مخکنۍ برخه د تعلیمي کال تر پوره کېدو مخته تدریس سول او طلباوو یاده کړه نو ضمیمه دعاګاني په طلباوو یادیږي .
ضمیمې ته نبایي د هغي ټولګۍ زده کونکي ځان ورسوي چي هغوی مخکي څه لوستي وي او بیا په لومړۍ ټولګۍ کي شمولیت ورکول سوی وي او یا د زده کونکو عمرونه تر اوو کلنو څخه زیات وي .

## د اسلامیات هدف

په لومړۍ ټولګۍ کي په عام ډول هغو زده کونکو ته شمولیت ورکول کیږي چي همدا اوس په زده کړه پیل کوي ، د دې تر مخه یې نه څه لوستي وي او نه یې څه یاد کړي وي البته عمر یې تر اوو کلنو څخه کم نه وي ځکه د اوو کلنو څخه واړه ماشومان د وړکتون په تربیتي دوره کي راځي ، د وړکتون تربیتې دوره تر لومړۍ ټولګۍ کښته ځان ته نصاب لري
د اسلامیات د مضمون هدف دا دی چي نالوستي اوه کلن ماشوم ته کلمه او لمونځ په وښودل سي ، د کلمې په معنا او د عقیدې په عام فهمو ماسایلو باندي وپوهول سي ، دا هغه څه دي چي د مسلمان بچی یې تر هر څه وړاندي و زده کړي ته اړتیا لري .

## د تدریس طریقه

اسلامیات د لوست کتاب نه دی بلکي محفوظات دي او د پوښتنو او جوابونو په ډول تدریسیږي ، سوال او جواب هم د تعلیم یوه اغیزمنه طریقه ده ، یوه مسئله چي د سوال په ډول مطرح سي او بیا یې جواب ورکړل سي هغه مسئله د اوریدنکو په ذهن او دماغ کي ښه ځای نیسي .
د ایمان او اسلام په حقیقت پوهیدل د هر مسلمان د پاره زیات ضروري دي ، د همدغه حقیقت د پوهاوي په غرض جبریل علیه السلام د نارینه انسان په شکل و رسول الله ﷺ ته راغی ، رسول الله ﷺ د خپلو ملګرو

په ټولګي کي تشریف درلودی ، د رسول الله ﷺ په ملګرو چا هم دا نفر نه پیژانده او نه پدې خبر وه چي دا جبریل علیه السلام دی ، دې سړي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه : ایمان څه شئ دی ؟ رسول الله ﷺ ورته وویل : ایمان دا دی چي ته پر الله ، د هغه پر ملایکو ، د هغه پر کتابونو ، د هغه پر رسولانو ، د قیامت پر ورځ او د خیر او د شر پر تقدیر باور او یقین ولرې
دې سړي د اسلام ، احسان او د قیامت د واقع کیدلو د ورځي پوښتني هم د رسول الله ﷺ څخه وکړې ، رسول الله ﷺ د هغه د پوښتنو جوابونه ورکړل ، وروسته سړی ولاړی ، د هغه د پوښتنو او د رسول الله ﷺ د جوابونو څخه صحابه کرامو د ایمان ، اسلام ، احسان حقیقت و پیژانده او تعریف یې ورته معلوم سو او دا مسئله هم ورته معلومه سوه چي د قیامت د واقع کیدو د ورځي علم بیله الله عزوجل څخه د بل هیچا سره هم نسته .
څه مهال چي سړی ولاړی رسول الله ﷺ و خپلو ملګرو ته ور و پیژندی چي دا کس جبریل علیه السلام وو دا پوښتوني یې د دې د پاره زما څخه وکړې چي تاسو ته دیني تعلیم درکړي ، یعني د ایمان ، اسلام ، احسان په حقیقت او شرعي معنا مو پوه کړي .
دا واقعه چي بخاري رحمة الله علیه او مسلم رحمة الله علیه دواړو رانقل کړې ده د دې دلیل دی چي سوال او جواب د تعلیم او پوهاوي یوه اغیزمنه طریقه ده .
اسلامیات هم د سوال او جواب په طریقه تدریسیږي خو یو ځل سوال او جواب دواړه د استاد لخوا بیانیږي څه مهال چي طالبان سوال او جواب واوري بیا استاد همدا سوال د څو تنو طالبانو څخه په نوبتیز ډول کوي هغوی به جواب ورکوي ، که یو طالب صحیح جواب ورنه کړای سي بل طالب دي و پوښتل سي ، که طالبان د سوالونو جوابونه څوک یو ډول او څوک یې بیا بل ډول ورکړي نو استاد باید طلباوو ته صحیح او غلط جواب په ګوته کړي چي د پلانکي جواب غلط او د پلانکي جواب صحیح دی .
د تمرین د پاره طلباء پر ګروپونو هم وېشل کېدلای سي تر څو هر ګروپ د خپل متقابل ګروپ څخه په نوبتیز ډول پوښتنه وکړي او د هغه بل ګروپ د طلباوو لخوا یې په نوبتیز ډول جواب ورکول سي او بیا هغه بل ګروپ په خپل واري پوښتنه وکړي او د دې بل ګروپ یو کس یې جواب ورکړي .
د یادوني وړ ده چي په تمرین او ګروپي سیالي کي پوښتني د کتاب د ترتیب له مخي نه کول کیږي بلکي یوه پوښتنه د کتاب د یوه ځای او بله پوښتنه د کتاب بل ځای څخه کول کیږي .
د پوښتونو په جوابولو کي دا هم ضروري نه ده چي کټ مټ د کتاب په شان جواب ورکړي بلکي په هر ډول اوږده او لنډ عبارت که طالب صحیح جواب ورکړي نو هغه موفق او کامیاب ګڼل کیږي .
د اسلامیاتو مضمون محفوظات دي یعني طلباء یې په لوست نه مکلف کیږي ځکه د لومړی ټولګی طلباء خط نسي لوستلای او هغوی همدا اوس په لیک او لوست پیل کوي بلکي په یاد په یادیږي .

بسم الله الرحمن الرحيم

# پنځه بناوي

سوال : د اسلام بناوي څو دي ؟

جواب : د اسلام بناوي پنځه دي .

سوال : د اسلام پنځه بناوي څه نوميږي ؟

جواب : كلمه ، لمونځ ، زكات ، روژه او حج .

## كلمه

سوال : كلمه طيبه څه ته وايي ؟

جواب : لَاۤ إِلَهَ إِلاَّ اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللّٰهِ .

سوال : كلمه طيبه ويل د اسلام څوومه بنا ده ؟

جواب : كلمه طيبه ويل د اسلام لومړۍ بنا ده .

سوال : زموږ اله څوک دی ؟

جواب : الله جل جلاله .

سوال : اله چا ته وايي ؟

جواب : اله هغه چا ته وايي چي د هغه عبادت کيږي .

سوال : موږ د چا عبادت کوو ؟

جواب : د الله جل جلاله .

سوال : زموږ رسول څوک دی ؟

جواب : حضرت محمد صلي الله عليه وسلم .

سوال : زموږ رب څوک دی ؟

جواب : الله جل جلاله .

سوال : رب چا ته وايي ؟

جواب : رب څښتن او پالونکي ته وايي .

سوال : الله ولي زموږ رب دی ؟

جواب : ځکه چي الله زموږ څښتن او پالونکی دی .

سوال : موږ چا پيدا کړي يو ؟

جواب : الله جل جلاله .

سوال : زموږ مور او پلار چا پيدا کړي دي ؟

جواب : الله جل جلاله .

سوال : دا ډول ډول خواړه چا پيدا کړي دي ؟

جواب : الله جل جلاله .

سوال : دا رڼي او خوږې اوبه چا پيدا کړي دي ؟

جواب : الله جل جلاله .

سوال: دا ښايسته او خوږې مېوې چا پيدا کړي دي ؟

جواب : الله جل جلاله .

سوال : دا ښکلي او ښايسته ګلان چا پيدا کړي دي ؟

جواب : الله جل جلاله .

سوال : په وچو درختو کې شنه بلګونه څوک را پيدا کوي ؟

جواب : الله جل جلاله .

سوال : د هګیو ښخه ښایسته ښایسته مرغان څوک را پیدا کوي ؟

جواب : الله جل جلاله .

سوال : په اوبو کي رنګارنګ ماهیان چا پیدا کړي دي ؟

جواب : الله جل جلاله .

سوال : دا جګ جګ غرونه چا پیدا کړي دي ؟

جواب : الله جل جلاله .

سوال : دا غټ غټ سمندرونه چا پیدا کړي دي ؟

جواب : الله جل جلاله .

سوال : مځکي او اسمانونه چا پیدا کړي دي ؟

جواب : الله جل جلاله .

سوال : د اسمان څخه باران څوک اوروي ؟

جواب : الله جل جلاله .

سوال : حيوانان او مرغان چا پيدا کړي دي ؟

جواب : الله جل جلاله .

سوال : د سمندر ماهيانو ته رزق څوک ورکوي ؟

جواب : الله جل جلاله .

سوال : د هوا مرغانو ته رزق څوک ورکوي ؟

جواب : الله جل جلاله .

سوال : د مځکي په نس کي و خزندو ته رزق څوک ورکوي؟

جواب : الله جل جلاله .

سوال : د غواوو د غولانځو څخه سپيني شيدې
څوک را پيدا کوي ؟

جواب : الله جل جلاله .

سوال : د مچمچيو د نسونو څخه خوا ږه عسل
څوک را باسي ؟

جواب : الله جل جلاله .

سوال : الله د مځکي ټول شيان د چا د پاره پيدا
کړي دي ؟

جواب : د انسانانو د پاره .

سوال : انسانان او پيريانان الله د څه شي د پاره
پيدا کړي دي ؟

جواب : د خپل عبادت د پاره يې پيدا کړي دي .

سوال : موږ د چا پر طريقه د الله عبادت کوو ؟

جواب : د محمد صلي الله عليه و سلم پر طريقه .

سوال : محمد صلي الله عليه و سلم څوک دی ؟

جواب : د الله لخوا څخه رالیږل سوی رسول .

سوال : موږ ولي يوازي د الله عبادت کوو ؟

جواب : ځکه چي الله يو دی ، شريک نه لري .

سوال : د عبادت وړ ولي يوازي الله دی ؟

جواب : ځکه الله د هر شي څښتن او پيدا کونکی دی .

سوال : څوک چي يوازي د الله خدايي مني او د هغه عبادت کوي هغه څه نوميږي ؟

جواب : مؤمن او مسلمان .

سوال : موږ ولي مسلمانان او مؤمنان نوميږو ؟

جواب : ځکه موږ بېله الله څخه نه بل خداى منو او نه د بل خداى عبادت کوو .

سوال : د قيامت ورځ کومي ورځي ته وايي ؟

جواب : هغي ورځي ته چي ټول انسانان د مرګ وروسته بيا پکښي را ژوندي کيږي .

سوال : د قيامت په ورځ څه کيږي ؟

جواب : د ټولو انسانو سره حساب کيږي .

سوال : د دې علاوه بل څه کيږي ؟

جواب : د انسانانو ښه او بد عملونه تلل کيږي .

سوال : که د چا د نيکيو پله درنه سي هغه به چيري ځي ؟

جواب : هغه به جنت ته ځي .

سوال : که د چا د بدیو پله درنه سي هغه به چیري ځي ؟

جواب : هغه به دوزخ ته ځي .

سوال : جنتیان جنت ته پر کومه لاره تیریږي ؟

جواب : پر پل صراط باندي تیریږي .

سوال : پل صراط څه شي ته وایي ؟

جواب : پل صراط پر جهنم باندي د جنت پل دی ، جنتیان جنت ته پر تیریږي .

سوال : الله جنت ته کوم کسان داخلوي ؟

جواب : مؤمنان او مسلمانان .

سوال : جنت څه ډول ځای دی ؟

جواب : جنت د هوسايي ، خوشالۍ او نعمتونو ځای دی .

سوال : په جنت کي څه ډول نعمتونه سته ؟

جواب : په جنت کي هر ډول نعمتونه چي د جنتي زړه يې غواړي سته .

سوال : په جنت کي د څه شي ويالې بهيږي ؟

جواب : د اوبو ، شيدو ، شرابو او عسلو .

سوال : د جنت هوا څه ډول ده ؟

جواب : د جنت هوا ښه خونکه او تل پکښي سايه وي .

سوال : آيا په جنت کي مرګ او ناروغي سته ؟

جواب : یا ، جنتي به په جنت کي تل ژوندی او روغ رمټ وي .

سوال : څوک چي د الله خدایي نه مني هغه په څه نامه یادیږي ؟

جواب : هغه د کافر په نامه یادیږي .

سوال : څوک چي د الله په عبادت کي مخلوق شریک کوي هغه ته څه وایي ؟

جواب : هغه ته مشرک وایي .

سوال : مشرک او کافر په آخرت کي چیري ځي ؟

جواب : مشرکان او کافران دوزخ ته ځي .

سوال : دوزخ څه ډول ځای دی ؟

جواب : دوزخ د اورونو او عذابونو ځای دی .

سوال : آيا په دوزخ کي لوږه او تنده سته ؟

جواب : هو ! دوزخيان به تل وږي او تږي وي .

سوال : دوزخيان د تندي د پاره څه شئ څښي ؟

جواب : ډېري ګرمي اوبه او د بدنونو څخه يې را بهېدليويني او نونه .

سوال : ايا په دې ګرمو اوبو يې تنده ماتيږي ؟

جواب : يا تنده يې نوره په زياتيږي او د نس کولمې يې په ويلي کيږي .

سوال : دوزخيان د لوږي د پاره څه خوري ؟

جواب : زقوم .

سوال : زقوم څه ډول خواړه دي ؟

جواب : زقوم ډېر بد خونده، بد بويه او بد شکله

خواږه دي .

سوال : ايا د زقوم په خوړولو سره يې لوږه ختميږي ؟

جواب : يا لوږه يې نوره هم په زيا تيږي .

سوال : ملائکي څوک دي ؟

جواب : د الله حکم وړونکي بند ګا ن .

سوال: الله ملايکي د څه شي څخه پيدا کړي دي ؟

جواب : د نور څخه .

سوال : ملايکي څه کوي ؟

جواب : هغه څه کوي چي الله يې امر ورته کوي .

سوال : قرآنکريم د چا کلام دی .

جواب : قرآنكريم د الله كلام دى .

سوال : قرآنكريم د كومي ملايكي په ذريعه نازل سوى دى ؟

جواب : د جبرائيل عليه السلام .

سوال : قرآنكريم پر چا نازل سوى دى ؟

جواب : پر حضرت محمد عليه السلام .

سوال : محمد صلي الله عليه و سلم د چا زوى دى ؟

جواب : د عبد الله

سوال : د محمد صلي الله عليه و سلم نيكه څه نوميږدى ؟

جواب : عبد المطلب .

سوال : د محمد صلي الله عليه و سلم ورنيکه څه نومېدى ؟

جواب : هاشم .

سوال : محمد صلي الله عليه وسلم په قوم څوک وو ؟

جواب : محمد صلي الله عليه وسلم په قوم قريش وو

سوال : د قريشو د کومي قبيلې څخه وو ؟

جواب : د بنوهاشم .

سوال : د محمد صلي الله عليه وسلم مورنۍ ژبه کومه وه ؟

جواب : عربي .

سوال : محمد صلي الله عليه وسلم په کوم ښار کي

زېږېدلى دى ؟

جواب : په مکه مکرمه کي .

سوال : محمد صلي الله عليه و سلم په کوم ښار کي وفات سوی دی ؟

جواب : په مدينه منوره کي .

سوال : اول نبي څوک دی ؟

جواب : آدم عليه السلام .

سوال : آدم عليه السلام څوک دی ؟

جواب : آدم عليه السلام د ټولو انسانانو پلار دی

سوال : الله آدم عليه السلام د څه شي څخه پيدا کړی دی ؟

جواب : د خاورو څخه .

سوال : تر ټولو وروستنی او آخري نبي او رسول څوک دی ؟

جواب : حضرت محمد صلی الله علیه وسلم .

سوال : پنځه غټ رسولان څه نومېدل ؟

جواب : نوح علیه السلام ، ابراهیم علیه السلام ، موسي علیه السلام ، عیسي علیه السلام او محمد علیه السلام .

سوال : تقدیر و څه شي ته وایي ؟

جواب : د خیر او شر ازلي الهي فیصلې ته .

سوال : په لوح محفوظ کي څه شي لیکل سوي دي ؟

جواب : ټول کېدونکي شیان .

سوال : بعث څه شي ته وایي ؟

جواب : بعث بیا راژوندي کېدلو ته وایي .

سوال : بیا را ژوندي کېدل څه مهال کیږي ؟

جواب : د قیامت په ورځ .

سوال : د قیامت په ورځ به نېک عمله مومنان چیري ځي؟

جواب : جنت ته .

سوال : د قیامت په ورځ به مشرکان او کافران چیري ځي؟

جواب : جهنم ته .

سوال : ګنهکاره مؤمنان به چیري ځي ؟

جواب : هغوی به هم که الله وبخښل جنت ته ځي .

سوال : ګنهکاره مؤمنان که الله و نه بخښي نو څه مهال به جنت ته ځي ؟

جواب : هغوی به د سزا تر ليدلو وروسته جنت ته ځي .

سوال : د شهادت کلمه څه شي ته وايي .

جواب : أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ .

سوال : د لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ معنا څه ده ؟

جواب : د الله څخه ماسېوا بل هيڅ رښتنی معبود نشته .

سوال : معبود څه شي ته وايي ؟

جواب : معبود هغه شي ته وايي چي عبادت يې

کیږي .

سوال : کافران او مشرکان چي د الله څخه ماسېوا د نورو شیانو عبادت کوي د هغو معبودان څه ډول دي ؟

جواب : د هغو دا معبودان او خدایان ټول باطل او ناحقه دي .

سوال : په رښتني ډول د عبادت وړ څوک دی ؟

جواب : یوازي الله جل جلاله .

سوال : د مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللهِ معنا څه ده ؟

جواب : محمد علیه السلام د الله رسول دی .

سوال : رسول چا ته وایي ؟

جواب : رسول د الله لخوا څخه رالیږل سوي استازي ته وايي .

سوال : الله محمد صلي الله علیه و سلم د څه د پاره رالیږلی دی ؟

جواب : د امت د لارښوني د پاره يې را لیږلي دی .

سوال : الله په څه ډول عبادت زموږ څخه راضي کیږي ؟

جواب : هغه عبادت چي محمد صلي الله علیه و سلم موږ ته را ښوولی دی .

سوال : د تمجید کلمه څه ته وايي ؟

جواب : سُبْحَانَ اللهِ ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ ، وَلاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ ، وَاللَّهُ أَكْبَرُ ، وَلاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِاللَّهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيمِ .

سوال : د توحید کلمه څه ته وایي ؟

جواب : لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ ، لَهُ الْمُلْكُ ، وَلَهُ الْحَمْدُ ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ

## لمونځ

سوال : د اسلام دوهمه بنا څه شي ده ؟

جواب : لمونځ

سوال : د شپې او ورځې څو لمونځونه فرض دي ؟

جواب : پنځه لمونځونه .

سوال : پنځه لمونځونه په کومو وختونو کي ادا کیږي ؟

جواب : سهار ، ماپښین ، مازیګر ، ماښام او ماخستن .

سوال : د سهار لمونځ څو رکعته دی ؟

جواب : د سهار لمونځ څلور رکعته دی .

سوال : د سهار په لمانځه کي څو رکعتونه فرض او څو سنت دي ؟

جواب : دوه رکعتونه فرض او دوه سنت دي .

سوال : فرض او سنت په څه ترتیب ادا کیږي ؟

جواب : اول سنت وروسته فرض ادا کیږي .

سوال : د ماپښین لمونځ څو رکعته دی ؟

جواب : لس رکعته دی .

سوال : څو رکعته یې فرض او څو یې سنت دي ؟

جواب : اول څلور رکعتونه یې سنت بیا یې څلور فرض وروسته بیا دوه سنت دي .

سوال : د مازیگر لمونځ څو رکعته دی ؟

جواب : د مازیگر لمونځ څلور رکعته دی .

سوال : څو یې سنت او څو یې فرض دي ؟

جواب : څلور سره فرض دي .

سوال : د ماښام لمونځ څو رکعته دی ؟

جواب : د ماښام لمونځ پنځه رکعته دی.

سوال : څو یې فرض او څو یې سنت دي ؟

جواب : اول دري یې فرض ، ور پسې دوه یې سنت دي .

سوال : د ماخستن لمونځ څو رکعته دی ؟

جواب : د ماخستن لمونځ نهه رکعته دی.

سوال : نهه رکعتونه یې څه شي دي ؟

جواب : څلور یې فرض ، دوه یې سنت او درې یې واجب دي .

## د لمانځه شرطونه

سوال : د لمانځه شرطونه کومو شیانو ته وایي ؟

جواب : هغو شیانو ته چي بېله هغو څخه لمونځ نه صحیح کیږي .

سوال : د لمانځه شرطونه څه مهال پر ځای کیږي ؟

جواب : د لمانځه د شروع کېدو څخه مخته پر ځای کیږي .

سوال : د لمانځه څو شرطونه دي ؟

جواب : د لمانځه شپږ شرطونه دي .

سوال : د لمانځه لومړی شرط څه شئ دی ؟

جواب : لومړی شرط یې د بدن پاکي ده .

سوال : د لمانځه دوهم شرط څه شئ دی ؟

جواب : دوهم شرط یې د جامو پاکي ده .

سوال : د لمانځه دریم شرط څه شئ دی ؟

جواب : دریم شرط یې د ځای پاکي ده .

سوال : د لمانځه څلورم شرط څه شئ دی ؟

جواب : څلورم شرط یې د عورت پټول دي .

سوال : د لمانځه پنځم شرط څه شئ دی ؟

جواب : مخ پر قبله درېدل .

سوال : د لمانځه شپږم شرط څه شئ دی ؟

جواب : په زړه کي د لمانځه نيت کول .

## اودس

سوال : د بې اودسۍ څخه بدن په څه شي پاک کيږي ؟

جواب : په اوداسه يا غسل .

سوال : ايا بې اودسه لمونځ کېدلای سي ؟

جواب : يا ځکه چي د بدن پاکي د لمانځه شرط دی .

سوال : د اوداسه فرضونه څو دي ؟

جواب : د اوداسه فرضونه څلور دي .

سوال : د اوداسه اول فرض څه شئ دی ؟

جواب : د مخ پرېولل .

سوال : د اوداسه دوهم فرض څه شئ دی ؟

جواب : تر څنګلو پوري د دواړو لاسو پرېولل .

سوال : د اوداسه دريم فرض څه شئ دی ؟

جواب : د سر د څلورمي برخي مسح کول .

سوال : د اوداسه څلورم فرض څه شئ دی ؟

جواب: تر بجلکو دواړي پښې پرېولل .

سوال : د څنګلو او بجلکو پرېولل څه ډول دي ؟

جواب : دا هم د لاسو او پښو په شان فرض دي .

سوال : اودس په څه ترتيب تازه کيږي ؟

جواب : اول دواړي خپړي بيا خوله او پزه دري دري ځلي پرېولل کيږي .

سوال : بيا څه کيږي ؟

**جواب : بيا مخ او دواړه لاسونه تر څنګلو درې درې واره پرېولل کيږي .**

**سوال : بيا څه کيږي ؟**

**جواب : بيا د ټول سر او د غوږو مسح کيږي .**

**سوال : بيا څه کيږي ؟**

**جواب : بيا د غاړې مسح او هم ګوتې خلالېږي .**

**سوال : تر ټولو اخر کوم اندامونه پرېولل کيږي .**

**جواب : دواړې پښې درې درې ځلې تر بجلکو پرېولل کيږي .**

**ياملرنه** : داچې په عملي ډول تعليم ورکول د ماشومانو د پاره تر ټولو اغېزمنه طريقه ده ، نو ښاغلي استاذ ته پکار ده ، چې په نظري ډول د اوداسه د ښووني څخه وروسته وطلباوو ته په عملي ډول اودس وښوي .

# غسل

سوال : غسل څه شي ته وايي ؟

جواب : غسل د ټول بدن پرېوللو ته وايي .

سوال : د غسل فرضونه څو دي ؟

جواب : د غسل فرضونه درې دي .

سوال : د غسل درې فرضونه کوم دي ؟

جواب : د خولې پرېولل ، د پزې پرېولل او سر تر پايه د ټول بدن يو ځل پرېولل .

## د اوداسه ماتونکي

سوال : د چا اودس چي مات سي څه به کوي ؟

جواب : نوی اودس به تازه کوي .

سوال : اودس په څه شي ماتيږي ؟

جواب : په بيد ېدلو .

سوال : بل په څه شي ماتيږي ؟

جواب : په بولو او درانه چکر او هم د باد په وتلو .

سوال : بل په څه شي ماتيږي ؟

جواب : د بدن څخه د وينو او نونو په وتلو .

## د لمانځه فرضونه

سوال : د لمانځه فرضونه څو دي ؟

جواب : شپږ دي .

سوال : د لمانځه اول فرض څه شئ دی ؟

جواب : د تحريمې تکبير .

سوال : د تحريمې تکبير څه ته وايي ؟

جواب : د لمانځه اول الله اکبر ته .

سوال : د لمانځه دوهم فرض څه شئ دی ؟

جواب : قيامه يعني په هر رکعت کي درېدل .

سوال : د لمانځه دريم فرض څه شئ دی ؟

جواب : قرائت ويل .

سوال : د لمانځه څلورم فرض څه شئ دی ؟

جواب : په هر رکعت کي رکوع کول .

سوال : د لمانځه پنځم فرض څه شئ دی ؟

جواب : په هر رکعت کي دوې سجدې کول .

سوال : د لمانځه شپږم فرض څه شئ دی ؟

جواب : د لمانځه په اخره کي کښېناستل .

# زكات

سوال : د اسلام د ريمه بنا څه شي ده ؟

جواب : د اسلام د ريمه بنا زكات دى.

سوال : زكات پر چا فرض دى ؟

جواب : زكات پر شتمنو مسلمانانو فرض دى .

سوال : زكات چا ته وركول كيږي ؟

جواب : فقيرانو او مسكينانو ته .

سوال : هر كال په سلو كي څو افغانۍ په زكات كي وركول كيږي ؟

جواب : دوې نيمي افغانۍ .

سوال : آيا سړى خپل زكات مور او پلار ته وركولاى سي ؟

جواب : يا نه يې سي ورکولای .

سوال : سړی خپل زکات خپلو اولادونو ته ورکولای سي ؟

جواب : يا نه يې سي ورکولای.

سوال : زکات مزدور ته په مزدورۍ کي ورکول کېدلای سي ؟

جواب : يا نسي ورکول کېدلای .

سوال : د شتمن نابالغه زوی ته زکات ورکول کېدلای سي ؟

جواب : يا نسي ورکول کېدلای.

سوال : د شتمن بالغ اولاد ته که مسکين وو زکات ورکول کېدلای سي ؟

جواب : هو ! ورکول کېدای سي .

## روژه

سوال : د اسلام څلورمه بنا څه شي ده ؟

جواب : د اسلام څلورمه بنا روژه ده .

سوال : روژه په کال څو میاشتي فرض ده ؟

جواب : یوه میاشت .

سوال : د کومي میاشتي د روژې نیول فرض دي؟

جواب : د رمضان د میاشتي .

سوال : روژه څه ډول نیول کیږي ؟

جواب : پدې ډول چي د سهار څخه به تر ماښام پوري نه څه شئ خوري او نه به یې چښي .

سوال : ایا په هېره روژه ماتیږي ؟

جواب : يا ، پههيره روژه نه ماتيږي .

سوال : کهد چا روژه هيره وي ، اوبهيا بل شئ وچښي ، روژه يې څنګهده ؟

جواب : روژه يې صحيح ده .

سوال : کهد چا روژه هېره وي ډوډۍ يا بل شئ وخوري روژه يې څنګهده ؟

جواب : روژه يې صحيح ده .

سوال : کهڅوک تر لمر لوېدو د مخهقصدا څهشئ وخوري روژه يې څنګهده ؟

جواب : روژه يې ماتهده ، نهصحيح کيږي .

# حج

سوال : د اسلام پنځمه بنا څه شی ده ؟

جواب : د اسلام پنځمه بنا حج دی.

سوال : حج څه شي ته وايي ؟

جواب : د بيت الله شريفي زيارت کولو ته .

سوال : بيت الله په څه نامه يادېږي ؟

جواب : کعبه شريفه .

سوال : کعبه شريفه په کوم ښار کي ده ؟

جواب : کعبه په مکه مکرمه کي ده .

سوال : د مکې ښار په کوم هيواد کي دی ؟

جواب : په سعودي عربستان کي .

سوال : حج پر چا فرض دی ؟

جواب : پر هغه چا فرض دی چي بيت الله شريفي ته د تلو توان ولري .

سوال : حج په عمر کي څو ځلي فرض دی ؟

جواب : حج په ټول عمر کي يو ځل فرض دی .

سوال : حج په کومو مياشتو کي ادا کيږي ؟

جواب : په شوال ، ذوالقعدة او ذوالحجة کي ادا کيږي .

# د لمانځه اذكار [١]

**سوال : تحريمه څه شي ته وايي ؟**

**جواب : د لمانځه اول الله اكبر ته .**

**سوال : تَعَوذ وڅه ته وايي ؟**

**جواب : اعوذ بِاللّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيم .**

**سوال : تَسمِيه څه شي ته وايي ؟**

**جواب : بِسْمِ اللّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيم .**

**سوال : په ركوع كي كومي تسبيح ويل كيږي ؟**

**جواب : سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ .**

**سوال : تسميع څه شي ته وايي ؟**

---

[١] پاملرنه : د لمانځه اذكار بايد په طالبانو په صحيح ډول ياد كړل سي . د يادولو سره سم د لمانځه د ولاړي ، ركوع ، سجدې او ناستي طريقې هم ورښووئ

جواب : سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَه .

سوال : تحميد څه شي ته وايي ؟

جواب : رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ .

په سجده کي کومي تسبيح ويل کيږي ؟

جواب : سُبْحَانَ رَبِّيَ الأَعْلَى .

سوال : تسليم څه شي ته وايي ؟

جواب : السَّلاَمُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللَّه .

سوال : ثناء څه شي ته وايي ؟

جواب : سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ ، وَتَبَارَكَ اسْمُكَ ، وَتَعَالَى جَدُّكَ ، وَلاَ إِلَهَ غَيْرُكَ .

سوال: د لمانځه په اخره ناسته کي کومه دعا ويل کيږي؟

جواب : اللَّهُمَّ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ .

سوال : تشهد ڇهشي تهوايي ؟

جواب : التَّحِيَّاتُ لِلَّهِ ، وَالصَّلَوَاتُ ، وَالطَّيِّبَاتُ ، السَّلاَمُ عَلَيْكَ ، أَيُّهَا النَّبِيُّ ، وَرَحْمَةُ اللهِ ، وَبَرَكَاتُهُ ، السَّلاَمُ عَلَيْنَا ، وَعَلَى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِينَ ، أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ ، وَرَسُولُهُ.

سوال : پهلمانئهكي كوم درود ويل كيږي ؟

جواب : اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ ، وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ ، وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ .

اللَّهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ ، وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ ،كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ ، وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيد .

**سوال : سورة الفاتحة كوم سورت ته وايي ؟**

**جواب :** بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيم .

الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ (٢) الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ (٣)

مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ (٤) إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ (٥) اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ (٦) صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ (٧)

**سوال : د الحمد لله په پای کي څه ويل کيږي ؟**

**جواب : آمين .**

**سوال : د آمين معنا څه ده ؟**

**جواب : يا الله ! ته يې را څخه قبول کړه .**

# د سورتونو حفظ

راتلونکي ځوارلس سورتونه په طالبانو یاد کړئ د یادوني وړ ده چي د دغو سورتونو څخه لس سورتونه په تعلیم القرآن کي هم راغلي دي خو هلته په ناظره یعني لوست لوستل کیږي

## سوال: سورة القارعة کوم سورت ته وایي؟

جواب: بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

الْقَارِعَةُ (١) مَا الْقَارِعَةُ (٢) وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْقَارِعَةُ (٣)
يَوْمَ يَكُونُ النَّاسُ كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوثِ (٤) وَتَكُونُ الْجِبَالُ
كَالْعِهْنِ الْمَنْفُوشِ (٥) فَأَمَّا مَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ (٦) فَهُوَ
فِي عِيشَةٍ رَاضِيَةٍ (٧) وَأَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُهُ (٨) فَأُمُّهُ
هَاوِيَةٌ (٩) وَمَا أَدْرَاكَ مَا هِيَهْ (١٠) نَارٌ حَامِيَةٌ (١١)

## سوال: سورة التکاثر کوم سورت ته وایي؟

جواب: بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ (١) حَتَّى زُرْتُمُ الْمَقَابِرَ (٢) كَلَّا سَوْفَ
تَعْلَمُونَ (٣) ثُمَّ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ (٤) كَلَّا لَوْ تَعْلَمُونَ
عِلْمَ الْيَقِينِ (٥) لَتَرَوُنَّ الْجَحِيمَ (٦) ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا عَيْنَ
الْيَقِينِ (٧) ثُمَّ لَتُسْأَلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ النَّعِيمِ (٨)

**سوال : سورة العصر كوم سورت ته وايي ؟**

**جواب :** بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وَالْعَصْرِ (١) إِنَّ الْإِنْسَانَ لَفِي خُسْرٍ (٢) إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا
وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ (٣)

**سوال : سورة الهُمَزَة كوم سورت ته وايي ؟**

**جواب :** بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وَيْلٌ لِكُلِّ هُمَزَةٍ لُمَزَةٍ (١) الَّذِي جَمَعَ مَالًا وَعَدَّدَهُ (٢)

يَحْسَبُ أَنَّ مَالَهُ أَخْلَدَهُ (٣) كَلَّا لَيُنْبَذَنَّ فِي الْحُطَمَةِ (٤)
وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْحُطَمَةُ (٥) نَارُ اللَّهِ الْمُوقَدَةُ (٦) الَّتِي
تَطَّلِعُ عَلَى الْأَفْئِدَةِ (٧) إِنَّهَا عَلَيْهِمْ مُؤْصَدَةٌ (٨) فِي عَمَدٍ
مُمَدَّدَةٍ (٩)

## سوال : سورة الفيل كوم سورت ته وايي ؟

**جواب :** بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِأَصْحَابِ الْفِيلِ (١) أَلَمْ يَجْعَلْ
كَيْدَهُمْ فِي تَضْلِيلٍ (٢) وَأَرْسَلَ عَلَيْهِمْ طَيْرًا أَبَابِيلَ (٣)
تَرْمِيهِمْ بِحِجَارَةٍ مِنْ سِجِّيلٍ (٤) فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ
مَأْكُولٍ (٥)

**سوال : سورة قريش كوم سورت ته وايي ؟**

**جواب : بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ**

**لِإِيلَافِ قُرَيْشٍ (١) إِيلَافِهِمْ رِحْلَةَ الشِّتَاءِ وَالصَّيْفِ (٢) فَلْيَعْبُدُوا رَبَّ هَذَا الْبَيْتِ (٣) الَّذِي أَطْعَمَهُمْ مِنْ جُوعٍ وَآمَنَهُمْ مِنْ خَوْفٍ (٤)**

**سوال : سورة الماعون كوم سورت ته وايي ؟**

**جواب : بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ**

**أَرَأَيْتَ الَّذِي يُكَذِّبُ بِالدِّينِ (١) فَذَلِكَ الَّذِي يَدُعُّ الْيَتِيمَ (٢) وَلَا يَحُضُّ عَلَى طَعَامِ الْمِسْكِينِ (٣) فَوَيْلٌ لِلْمُصَلِّينَ (٤) الَّذِينَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ (٥) الَّذِينَ هُمْ يُرَاءُونَ (٦) وَيَمْنَعُونَ الْمَاعُونَ (٧)**

**سوال : سورة الكوثر وكوم سورت ته وايي ؟**

جواب : بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ (١) فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ (٢) إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ (٣)

سوال : سورة الكافرون وكوم سورت ته وايي ؟

جواب : بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ (١) لَا أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ (٢) وَلَا أَنْتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ (٣) وَلَا أَنَا عَابِدٌ مَا عَبَدْتُمْ (٤) وَلَا أَنْتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ (٥) لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِيَ دِينِ (٦)

سوال : سورة النصر كوم سورت ته وايي ؟

جواب : بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ (١) وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ اللَّهِ أَفْوَاجًا (٢) فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا (٣)

## سوال : سورة المسد كوم سورت ته وايي ؟

**جواب :** بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ (١) مَا أَغْنَى عَنْهُ مَالُهُ وَمَا كَسَبَ (٢) سَيَصْلَى نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ (٣) وَامْرَأَتُهُ حَمَّالَةَ الْحَطَبِ (٤) فِي جِيدِهَا حَبْلٌ مِنْ مَسَدٍ (٥)

## سوال : سورة الإخلاص كوم سورت ته وايي ؟

**جواب :** بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ (١) اللَّهُ الصَّمَدُ (٢) لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ (٣) وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ (٤)

سوال : سورة الفلق كوم سورت ته وايي ؟

جواب : بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ (١) مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ (٢) وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ (٣) وَمِنْ شَرِّ النَّفَّاثَاتِ فِي الْعُقَدِ (٤) وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ (٥)

سوال : سورة الناس كوم سورت ته وايي ؟

جواب : بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ (١) مَلِكِ النَّاسِ (٢) إِلَهِ النَّاسِ (٣) مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ (٤) الَّذِي يُوَسْوِسُ فِي صُدُورِ النَّاسِ (٥) مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ (٦)

سوال : دعاء قنوت كومي دعا ته وايي ؟

**جواب :** بسم الله الرحمن الرحيم

**اللَّهُمَّ إِنَّا نَسْتَعِينُك ، وَنَسْتَغْفِرُك ، وَنُؤْمِنُ بِك ، وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْك ، وَنُثْنِي عَلَيْك الْخَيْرَ كُلَّهُ ، نَشْكُرُك ، وَلَا نَكْفُرُك ، وَنَخْلَعُ ، وَنَتْرُكُ مَنْ يُفْجِرُك ، اللَّهُمَّ إيَّاكَ نَعْبُدُ ، وَلَك نُصَلِّي وَنَسْجُدُ ، وَإِلَيْك نَسْعَى وَنَحْفِدُ ، نَرْجُو رَحْمَتَك ، وَنَخْشَى عَذَابَك ، إنَّ عَذَابَك بِالْكُفَّارِ مُلْحَقٌ** ( البحرالرائق شرح كنزالدقائق )

**پاملرنه :** دعاء قنوت په ټولو روایاتو کي یو ډول نه دی رانقل سوی، بلکي په څه جزوي تفاوت را نقل سوی دی ، په ځینو کي ځني کلمې زیاتي یا کمي وي او یا د یوې کلمې پر ځای بله کلمه وي د دعاء قنوت پورتني الفاظ او د جملو ترتیب د بحرالرائق څخه رانقل سوی دی او همدا الفاظ یې د ابوحنیفة رحمة الله علیه څخه مشهور بللي دي د حدیثو په کتاب کي موږ کټ مټ په پورتني ډول الفاظ نه دي موندلي ، البته په مجموعي ډول یې ټولي کلمې ځیني د یوه ځیني یې بیا د بل روایت مطابق دي[2] .

---

[2] پورتنیو الفاظو ته تر ټولو نژدې د شرح معاني الاثار لاندي روایت دی :عَنْ عَطَاءٍ عَنْ عُبَيْدِ بْنِ عُمَيْرٍ قَالَ صَلَّيْتُ خَلْفَ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ صَلَاةَ الْغَدَاةِ فَقَنَتَ فِيهَا بَعْدَ الرُّكُوعِ وَقَالَ : فِي قُنُوتِهِ ( اللَّهُمَّ إِنَّا نَسْتَعِينُكَ وَنَسْتَغْفِرُكَ ، وَنُثْنِي عَلَيْكَ الْخَيْرَ كُلَّهُ وَنَشْكُرُكَ وَلَا نَكْفُرُكَ وَنَخْلَعُ وَنَتْرُكُ مَنْ يَفْجُرُكَ اللَّهُمَّ إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَلَكَ نُصَلِّي ، وَنَسْجُدُ وَإِلَيْكَ نَسْعَى وَنَحْفِدُ نَرْجُو رَحْمَتَكَ وَنَخْشَى عَذَابَكَ إِنَّ عَذَابَكَ بِالْكُفَّارِ مُلْحِقٌ ) .

# دوهمه برخه

## د اسلامياتو ضميمه

د اسلامياتو دوهمه برخه د لومړۍ ټولګۍ د کلني نصاب ضميمه ده ، که مخکنۍ برخه د تعليمي کال د پوره کېدو مخته په ښه ډول طلباوو زده کړای سوای بيا دي په دوهمه برخه کي راغلي دعاګاني په طالبانو ياد کړل سي او توصيه دي ورته کيږي څو دا دعاګاني په ټاکلو وختونو کي هره ورځ وايي او د کورنۍ و نورو غړو ته يې هم وښوي .

# اذكار متوارده

**سوال : مسجد ته د ننوتلو پر مهال څه ویل کیږي ؟**

**جواب :اللَّهُمَّ افْتَحْ لِى أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ** ( رواه مسلم )

**سوال : د مسجد څخه د وتلو پر مهال څه ویل کیږي ؟**

**جواب :اللَّهُمَّ إِنِّى أَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ** ( رواه مسلم )

**سوال : د بید بدو پر مهال څه ویل کیږي ؟**

**جواب :اللَّهُمَّ بِاسْمِكَ أَمُوتُ وَأَحْيَا** ( رواه البخاري )

**سوال : د را ویښېدو پر مهال څه ویل کیږي .؟**

**جواب :الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَحْيَانَا بَعْدَ مَا أَمَاتَنَا وَإِلَيْهِ النُّشُورُ** ( رواه البخاري )

**سوال : د ډوډۍ په پیل کي که د چا بسم الله هېره سي نو په منځ کي څه ډول بسم الله ویل کیږي ؟**

**جواب :** بِسْمِ اللّٰهِ أَوَّلَهُ وَآخِرَه ( رواه ابوداود )

**سوال : د ډوډۍ خوړلو وروسته څه ویل کیږي ؟**

**جواب :** الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِى أَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَجَعَلَنَا مُسْلِمِين ( رواه ابوداود )

**سوال : و بیت الخلاء ته تر ننوتلو د مخه څه ویل کیږي ؟**

**جواب :** اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ (رواه البخاري )

**سوال : د بیت الخلاء څخه تر راوتلو وروسته څه ویل کیږي؟**

**جواب :** غُفْرَانَك ( رواه ابوداود )

**سوال : د مجلس په اخير كي د گناه رژوني د پاره څه ويل كيږي ؟**

**جواب :** سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ ، أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ ، أَسْتَغْفِرُكَ ، وَأَتُوبُ إِلَيْكَ . (رواه ابوداود )

**سوال : د كور څخه د وتلو پر مهال څه ويل كيږي ؟**

**جواب :** بِسْمِ اللَّهِ ، تَوَكَّلْتُ عَلَى اللَّهِ ، لاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِاللَّه . (رواه ابوداود )

**سوال : كور ته د ننوتلو پر مهال څه ويل كيږي ؟**

**جواب :** اللَّهُمَّ إِنِّى أَسْأَلُكَ خَيْرَ الْمَوْلِجِ ، وَخَيْرَ الْمَخْرَجِ ، بِسْمِ اللَّهِ وَلَجْنَا ، وَبِسْمِ اللَّهِ خَرَجْنَا ، وَعَلَى اللَّهِ رَبِّنَا تَوَكَّلْنَا . (رواه ابوداود )

سوال : د واده او کوزدې مبارکي څه ډول ورکول کیږي ؟

جواب : بَارَكَ اللَّهُ لَكَ وَبَارَكَ عَلَيْكَ وَجَمَعَ بَيْنَكُمَا فِي خَيْر (رواه ابوداود)

سوال : د الله امانی ته پر مهال مسافر ته څه ډول دعا کیږي ؟

جواب : أَسْتَوْدِعُ اللَّهَ دِينَكَ ، وَأَمَانَتَكَ ، وَخَوَاتِيمَ عَمَلِك . (رواه ابوداود)

سوال : پر سپرلۍ د سپرېدو پر مهال څه ویل کیږي؟

جواب : الْحَمْدُ لِلَّهِ ، سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَذَا ، وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ ، وَإِنَّا إِلَى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُونَ (مسند البزار)

**سوال : د ضررناکه شیانو د ضرر څخه د ځان ساتني د پاره د شپې څه ویل کیږي ؟**

**جواب :** أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللَّهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَق . ( رواه مسلم )

**سوال : د کافرانو او مشرکانو لښکرو ته ښرا څه ډول کیږي ؟**

**جواب :** اللَّهُمَّ مُنْزِلَ الْكِتَابِ ، سَرِيعَ الْحِسَابِ ، اللَّهُمَّ اهْزِمِ الأَحْزَابَ ، اللَّهُمَّ ! اهْزِمْهُمْ ، وَزَلْزِلْهُم ( متفق عليه )

**سوال : د نوي میاشتي د لیدو پر مهال څه ویل کیږي ؟**

**جواب :** اللهم أَهِله علينا بالأمن والإيمان ، والسلامة والإسلام ، ربي وربك الله ( رواه الترمذي )

**سوال : د غم ځپلي ، بد حاله کس د لیدو پر مهال څه ویل کیږي ؟**

**جواب : الحمد لله الذي عافاني مما ابتلاك به وفضلني على كثير ممن خلق تفضيلا .** ( رواه الترمذي )

## د كتاب پای

**و الحمد لله رب العالمين و صلي الله تعالي و سلم علي سيدنا محمد و علي آله و صحبه اجمعين .**




د تعليم الاسلام ویب پاڼې له خوا :

www.taleemulislam-radio.com